# امن کښې ستاسو

## هم خير دے

اسرار د طورو

امن ژوند دے. امن کښې زمونږ او ستاسو خير دے. امن د ترقۍ ضامن دے. ژوندي افکار او خير رسوونکي خيالات فاني انسان ژوندي ساتي. باچاخان د نولسمې پيړۍ په آخري عشره کښې په اتمازو (چارسده) کښې د بهرام خان په کور کښې پېدا شو دغه وخت پښتانه د انګريزانو د جبر ښکار وو.

په ۱۸۹۳ء کښې انګريزانو د ډيورنډ په کرښه د پښتنو زمکه تقسيم کړه. د کرښې نه مغرب ته د پښتنو (افغانانو) حکومت ومنلے شو. دلته دې علاقې ته پيرنګي د شمال مغرب سرحدي صوبې (N.W.F.P) نوم ورکړو. دا نوم د پښتنو د تشخص د ورکولو يوه حربه وه. بيا ئې پښتانه په انتظامي ډول بيل بيل کړل. ايجنسۍ رياستونه او ضلعې ئې جوړې کړې. ملاکنډ ايجنسي، خيبرايجنسي، مومندوايجنسي، شمالي وزيرستان، جنوبي وزيرستان، رياست امب دربند، رياست سوات،رياست دير،رياست چترال، کرم ايجنسي وغيره ډيرې پراخه علاقې دي. دا اندام اندام وطن که يو ځائې شي او د پښتنو انفراديت او قبائيلي بيلتون په قامي چوکاټ کښې راټول شي سياسي ملکي انتظامي وحدت پکښې راشي نو يو مضبوط قام به شي. د پاکستان قومي اسمبلۍ د انګريزانو ټاکلي نوم (N.W.F.P) د زرداري صاحب د جمهوري حکومت په دور کښې بدل کړو. د پښتنو خدمتګار باچاخان د پښتونستان يا



پښتونخوا نومونه خوښ کړي وو. هغه يو اصول پسند سړے ؤ. د خپل قام شناخت ئې غوښتلو. که د پنجاب سياست کوونکي ورسره د خيبر سابقه لګولي ضروري اوګنړل نو د باچاخان د خدائي خدمتګارانو نمسو دا سابقه قبوله کړه. د باچاخان فکر د ورورولۍ ده. هغوي د خپل قام او نورو قامونو اتحاد ته لار سموله. دا لار په ورورولۍ او عدل سمېږي. په جبر خو انګريزان هم په دې سيمه پاتې نه شو. پاتې راغلل او په تلو تلو کښې ئې لتې اووهلې او د اقتدار د پريښودو سره ئې په ټول وطن کښې د اولسونو په مينځ کښې د دشمنۍ زهر اوکرل.

قامونه ئې يو بل ته را اوپارول. انسان ئې د انسان د وينې تږے کړو. باچاخان د پښتنو په غلامۍ بې قراره ؤ. هغوي د ډير غور نه پس دا فېصله وکړه چې د پښتنو د ترقۍ او آزادۍ دپاره دوي له تعليم ورکول پکار دي چې ځان اوپيژني او

د غلطو رسمونو او فضول خرڅونو او بې اتفاقۍ او تربګنۍ د ژوند نه را اوځي.

هغه عملي سړے ؤ. راپاسېدو انجمن ئې جوړ کړو کوڅه په کوڅه، کلي په کلي، په حجرو په جوماتونو به ګرځېدو. آواز کښې ئې اخلاص ؤ. مینه وه پکښې خلق ئې رابېدارول مدرسې او سکولونه جوړېدل. انګریز خفه شو که باچاخان دا پښتانه پوهه کړل منظم ئې کړل نو بیا خو دا ملک د دې پښتنو دے. نو مونږ به د خپل ملک نه اوباسي. نو هغوي د دۀ د ناکامولو دپاره شل لارې اختیار کړې. مراعات یافته خانان،جاګیردار او د مذهب په نوم ټګان برګان خلق ئې ورپسې کړل. پراپېګنډې زور شوې وهل ټکول کورونه تالاکول او قیدخانو کښې باچاخان او د هغه ملګري بندیوان کول ئې شغل شو.

د باچاخان په کور او په حجره حملې اوشوې. د هغه تحریک زور نیولو. په جلسو جلوسونو ناتاره حملې به کېدې. د باچاخان پښتۍ په ګوند رغولو ماتې کړے شوې خو باچاخان د قام د بیدارۍ او د وطن د آزادۍ کار ته کار وئیلے ؤ. هغه د پښتنو په کور کښې بې اتفاقي او کربښې ورانول غوښتل. د کرسۍ او پېسې سیاست قامونه وژني هغه د الله د رضا دپاره د خدمت قائل ؤ. ځان له چوکۍ ډېر خلق وګټې. باچاخان قام له چوکۍ ګټل غوښتل. دا انقلاب به راځي انقلاب را روان دے. د وحدت نعره اوچته شوې وه. قامي وحدت کښې صداقت دے. پښتانه مسلمانان دي. لکه د نَفَرُمِنَ الجِنِ ئې د اتحاد او توحید نعره اورېدلې ده. اوس باچاخان نشته. آواز او فکر ئې ژوندے دے. هغه د عالمانو تقوی دارو او د خدمتګارو نرانو او ښځو په زړونو کښې د آزادۍ او خوشحالۍ ولوله پېدا کوله. دا ولوله اوس په تعلیم یافته ځوانانو کښې په غورزنګ ده باچا خان په یو تقریر کښې ښځو ته اووئیل :

څنګه چې د اسلام خدمت نارینه ؤ کړے دے هم دغسې زنانه ؤ کړے دے. زما یقین دے د پښتنو دین اسلام دے که دا پښتانه یو شو نو شریعت به نافذ کړي. کوم سیاسي تنظیمونه چې د اسلام په نوم کار کوي هغوي دې د پښتنو د اتحاد مرسته وکړي نو کامیاب به شي. اسلام د قامونو،اتحاد، آزادۍ او بنیادي حقوق کښې د عدل نظام قائموي.

باچا خان د هر سامراج مخالف ؤ هغه مونځ ګزاره ؤ. حج ئې کړے ؤ د شیخ الهند نه ئې بیعت کړے ؤ. د امریکې په دام کښې ګیر مذهبي سیاسیان نن ناکام دي چې بادار پرې د دهشت ګردۍ الزام لګوي. اوس پټ لاسونه قتلونه کوي. او د هرې طبقې قابل خلق وژني. د دې عذاب مخنیوے اتفاق غواړي. د دهشت ګردۍ اصلاح د قتلونو مخنیوے نه کوي. دا د عوامو قاتله اصلاح ده. په مشرق او مغرب کښې هر نوعې وژنې د مذهب،عقیدې،قام،قبیلې،نسل او رنګ تمیز نه کوي. ګناه بې ګناه نه پېژني. پاکستان کښې او افغانستان کښې پښتانه وژني. د سکولونو بچي قتلوي او په سوات کښې ګلالۍ او ملاله وژني او په فرانس کښې د امن او عدم تشدد د پېغمبر حضرت عیسی علیه السلام نوم اخستونکي وژني. دا اصلاح بدنامه ده. دهشت ګرد څوک دے. دے خو ځان هم وژني. تا په تا او ما په ما وژني. عالمي طاقتونه ما او تا جنګوي او بیا مصالحت هم کوي. د دوي خپل قامونه د بادار نه تپوس نه کوي چې دا تاسو کومه لوبه کوئ. د امن په ځائې فساد ولې خوښوئ. امن کښې ستاسو هم خېر دے.